ولي الله ملکزی
۲۰۱۹/۰۲/۲۵

# جي، مونږ خو تبليغيان يو

څو ورځې وړاندی کور ته په لار، د دوبۍ د هوايي ډګر د دريم ترمينل په ډيوټي فري بازار کې ناست وم چې د شپږو تنو يوه ډله می خوا ته را روانه وه چې عمرونه به يی د ديرشو او شپيتو کلنو تر منځ وو. ټولو ښايسته مبارکې ږيرې پريښی وې چې د دريو تنو خو د قبضې د شرعي حد څخه هم اوږدې وې. د چا ږيره چټ پټ سپينه وړۍ او د چا مۍ وريجې وه، خو د دوو تنو ږيرې داسې تکې تورې ځليدلې لکه د باجوړ د شړشمو په سوچه تيلو يی چې تازه غوړې کړی وي.
په جيبونو کی يی د قلمونو په ځای نروچکي نروچکي سپين او نصواري رنګه مسواکونه ټومبلي وو. جامې د ټولو سپينې او اوږدې وی خو د لمنو او ګنډلو ستايل بيا د هر چا جلا وو. چارسده والې کيرۍ په پښو او تيله دارې سواتۍ خولۍ په سرونو. هيڅ داسې نه ښکاريدل چې ګوندی دوئ دی د کوم اوږده سفر څخه راستانه شوي وي او يا دی د کوم لوري د تګ قاصدان وي. د دوئ په لاسونو کې د ويليمز، امبيسيډر او سمسونيټ لوکس بکسونه او سوټکيسونه نه وو، بس بيچاره ګان يا خو چورلټه تش پاڼي وو او که په لاسونو کې يی کومه يکه دوکه بوخسه او پنډه کی درلود، نو هغه ماته د پيښور په قصه خوانۍ کې جوړ شوي بريښيدل.
هر څومره چې دوئ پخپلو درنو درنو قدمونو ځما خواته را نژدی کيدل په هماغه کچه ځما تلوسه او بی صبري ډيرېدله او په زړه کې می ګوړې ماتولې چې که اب زمزم نه وي نو ورځه د حاجي صيبانو د وروستۍ جوپې د سترې مه شي ثواب خو نغد شو.
پرته لدې چې پوه شي ځما ژبه څه ده، له عليک سليک وروسته يی په پښتو خبرې پيل کړې او په ډير اخلاص يی داسی روغبړ راسره وکړ لکه زه چې د دوئ د کلي يم. ځما بال بچې او دوستان خو څه، چم ګاونډ يی هم پرينښود. مشران د مازيګر د لمانځه لپاره جوخت جومات ته ننوتل خو دواړو ځوانانو ته يی د اشارو  په ژبه د پاتې کيدو او ماته د دعوت راکولو دنده ورکړه.
ناشنا خو مينه ناک کليوال راته دواړه مخاخ کيناستل او د دعوت او تبليغ د فضايلو او د هغه فقهي حکم په اړه يی خوله پرانيسته، که مې غاړه بنده نشي نو پوره پنځلس دقيقې وغږيدل. زه مازی غوږ غوږ وم او نه مې غوښتل چې د دوئ په خبرو کې خنډ او ديوال شم. دوئ به د هرې جملې په آخر کې ويل: هن جي او ما به ويل چې: هو حاجي صيب. د دوئ د خبرو په منځ منځ کې به د مختلفو هوايي شرکتونو د الوتکو د روانيدو او ځنډيدو اعلانونه کيدل او کله ناکله به د نيمه بربنډو او سرو برګو نجونو او ميرمنو ليکې راغلې، خو دی ځوانانو تر آخره خپل نظرونه ټيټ وساتل او هغه د چا خبره، ارګې يی هم پری خوسا نکړ.
منم چې د دوئ احساس ډير نيک وو او په ښه نيت يی د يوې هبې او ذرې شک کول هم را ته ګناه ښکاري، خو ډير ځلې به ور څخه خبره ګاګيره او سرسري شوه. د کوم آيت، حديث او علمي استدلال په ځای به يی د مولانا زکريا (د تبليغي جماعت يو مشر) او نورو بزرګانو په کيسو، مثالونو او متلونو باندی تکيه کوله. د ژوند په ځای د مرګ او د نهی عن المنکر په ځای د امر بالمعروف کلمې بيا بيا تکرارولې.
خو حقيقت دادی چې په قرانکريم کې ۷۱ کرته د حياة ( ژوند) او ۳۵ ځلې د موت (مرګ) ذکر شويدی. په يو مبارک حديث کې چې ځينې علماء يی مرفوع نه ګڼي، راغلي چې: « اعمل لدنياک کانک تعيش ابدا واعمل لاخرتک کانک تموت غدا » يعنی (د دنيا لپاره دی داسی کار او منډې ترړې ووهه لکه ته چې د تل لپاره ژوندی يی او د اخرت لپاره دی داسی عمل او خواري وکړه لکه ته چې همدا سبا مړ کيږی).
د تبليغيانو د مخالفينو ترمنځ عامه انګيرنه داده چې، تبليغي حضرات يواځې د دين په عبادتي، روحي او اخروي اړخ باندی په ټينګار سره، سه روزې، چيلې- څلويښت ورځې ـ او له څلورو تر اوو مياشتو او حتی کلونه لګوي، او ليدل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کیږي چې د خپلو پرسیدلو نظامونو، واکمنو دیکتاتورانو او ناروا چاپیریال د نادودو په وړاندې سکوت غوره کړي. تنها د دین د فضایلو په بیانولو بسیا کوي او خپلو پیروانو ته د ګشت، زهد او له دنیوي ژوند څخه د ګوښه توب او بیزارۍ تلقین کوي. له مدني او عصري ژوند سره چندان کار نلري او د سیاست او حکومتدارۍ دروازې ته سر نه ښکاره کوي. بس پنده کې په شا پخپل مصرف د ذکر او ورد په کولو سره، نن دې جوماتک کې او سبا د هغه بل کلي په مسجد کې خلک د رهبانیت، ریاضت او خلوت خوا ته رابولي.

ولی د تبلیغي جماعت پلویان بیا پدې آند دي چې د دوئ د تبلیغ، ملتیا او هڅو له برکته، نه یواځې په لس ګونو نومیالي سیاستوال، سترګه ور هنرمندان او وتلي لوبغاړي، بلکې په زرګونو سر والي بر والي خرمستان، قمار بازان، پوډریان، اوباشان، لوفران او لوچکان، سمې لیکې ته سیخ شویدي. له لنډه غرۍ او بدماشۍ سره یې مخه ښه کړې او د دینداري، تواضع او عاجزۍ لاره یې خپله کړیده. دوئ باور لري چې د سترګو په رپ کې د چاپیریال دغه ډول ستري ناخوالې او ناغیرې نه سمیږي او د فاسد او فساد په ضد د تاوجن غبرګون نه څرګندول او د ظلم پخلاف احساساتي او پاریدلی پاڅون نه کول، دیني مصلحت او د وخت او حالاتو غوښتنه ده.

له بله پلوه، الله تعالی فرمایي (کُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ) یعنی: تاسو هغه غوره ډله یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شویده، تاسې د نیکۍ امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ) او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی: څوک چې یو ناوړه کار ووینې نو باید په لاس- زور- سره دی هغه منعه کړي، که یې نشي نو په ژبه دی د هغه د مخنیوي هڅه وکړي او که دا یو هم نشي نو بیا دی لدغه عمل څخه په زړه کې بد یوسي، کوم چې د کمزورې ایمان نښه ده.

نو کله چې په یو کور، یوه ټولنه او یو هیواد کې نیکۍ ته د هڅولو او د خیر خواته د لارې برابرولو روحیه حاکمه نه وي او د بدۍ د مخنیوي، د هغې د له منځه وړلو او د شریرو او بدو انسانانو د مجازات کولو اصول برلاسي نه وي، نو بیا به د دی امت د غوراوي، منځلاریتوب او بهترۍ مانا څه وي؟

تبلیغیان دا مني چې هره ټولنه یو ډول اصلاح او رغون ته اړتیا لري خو دا چې هوش له جوش څخه بهتر دی نو ځکه خو باید لمړی د ځان تزکیې او اصلاح او بیا د ټولنې سمون ته توجه وشي. کنه نو د دعوت او بلنې مخه به ډب او د باران ځای به څڅوبي ونیسي. دوئ شاید پدې عقیده وي چې ګوندي سیاست او حزبي چاپیریال، فاصلې او واټونونه زیږوی، اختلاف ته ببوزی وهي، واحد امت په ډلو ټپلو ویشي او د خلقت اصلي موخې، یعني عبادت ته تللی لار، کږه او انحراف رامنځ ته کیږي.

د تبلیغي جماعت بنسټ چې د مولانا محمد الیاس کاندهلوي لخوا په ۱۳۰۵ لمریز/ ۱۹۲۶ م کې ډهلي ته نژدې د دیوبند په سیمه کې ایښودل شوی د حنفي فقهې پیروان او د خپل مسلک لپاره شېږ ګوني اصول لري. مشهور کتاب یې فضایل اعمال نومیږي او له مهمو مشرانو څخه یې یو هم مولانا زکریا دی چې د پنجاب ایالت په رایونډ کې یې لوی مرکز جوړ کړیدی.

له دواړو تبلیغي صاحبانو سره ځما بنډار ښایسته اوږد او دلچسپه شو. مرکزي او ختیزې افریقا ته د خپل اوه میاشتني سفر ټولې خوږې او ترخې خاطرې یې راته یوه په یوه د ضرب زباني په شان تکرار کړې. دواړه بهادر او متوکل ښکاریدل او د ایبولا په وژونکې وایرس او وبا باندی یې چرت هم خراب نه وو چې تر دمه یې نژدی اوه زره تنه وژلی دي.

یو تن چې دوه کاله وړاندی یې واده کړی وو، د خپل ګلالي زوی لیدو ته ډیر په شنه کې وو خو د هغه کوژده شوي انډیوال خپل واده ته لیوالتیا د زړه په صندوقچه کې همداسې پټه وساتله او نه یې غوښتل چې د خپل پښتانه غرور شمله د چا په قدمونو کې کیږدي.

څو څو ځلې می په زړه کې دا خبره تاو را تاو خو په خوله نه شوه چې وه لالیه! تاسو دا دومره پیسې له کومه کړې چې نیمه دنیا مو ګزو ګام او د دوئ په وینا درې کاپیران مو مسلمانان کړل؟ خو کله می چې ترې وپوښتل چې د ترهګرئ په نامه په روانه جګړه کې خو اکثره سفارتونه د اوږدو ږیرو خاوندان د خپلو سفارتونو د دیوال سیورې ته هم نه پریږدي نو تاسو ته دا ویزې څرنګه درکوي؟ نو یو تن یی بیدریغه وویل: ګوره جي، بس مونږ خو تبلیغیان یو؟!

پرته له شکه، تبلیغ یوه دیني فریضه او اخلاقي وجیبه ده. د اندونیزیا غوندی ستر اسلامي هیواد په وینه، توره او د موچې په تار نه، بلکې د مبلغینو د وعظ ، سیرت او نیکو اخلاقو له برکته مسلمان شوی او څومره به ښه وي که قدرمند تبلیغیان پخپلو ګشتونو او موعظو کې ځمونږ ځوانانو ته د دین د تعلیم په څنګ کې دا تلقین هم ورکړي چې، ځان وژنه حرامه او ژوند ښکلی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ